دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی: درویش وردګ

۱۷ جنوری ۲۰۱۸

## السَّوادُ الاعظم- ۴

**پښتوترجمه**

**تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی**

**د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی**

**دوهمه مسئله**

داده چی دمسلمانانو دجماعت خلاف ونکړی.ځکه چی رسول صلی الله علیه وسلم ویلی: لَا تَجتَمِعُ اُمَّتِی عَلی الضَّلالَه. وویل چی زما امت به په ضلالت سره راټول نشی. پس هرڅوک چی دمسلمانانو دجماعت (ټولی) خلاف وکړی اوله جماعته څخه بیل شی اوجماعت حق ونه بولی ، هغه هوادار(هیله لرونکی) دی. ځکه چی درسول علیه السلام سنت اوجماعت ساتل واجب دی. اوله موکدو سنتو څخه یو دادی چی: جماعت وساتی. قوله تعالی: یَااَیَّهَاالَّذِینَ آمَنُوا اَطِیعوُ الله وَاَطِیعوُ لرَّسُولَ. یعنی دخدای عزّوجلّ اطاعت وکړی په فرایضو کی اودرسول علیه السلام په سنتو کی.

اوبل ځای فرمایی: وَمَا آتَکُمُ الرَّسُولَ فَخُذهُ وَمَا نَهکُم عنهُ فَانتَهُوا. یعنی هغه څه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسو ته راوړی، په هغی منګولی ولګوی اوله هغه څه چی منع کړی یاست ودریږی.

اوبل ځای فرمایی: وَمَا یَنطِقُ عَنِ الْهَوا، اِنْ هُوَ اِلّاوَحْی یُوحی. یعنی هرڅه چی محمد علیه الصلوة والسلام تاسو ته وایی اوفرمایی، زمونږ په وحی وایی، نه دخپلی هوای له مخی.

عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما وایی: چی رسول علیه الصلواة والسلام ویلی: هرڅوک چی په جماعت سره یو کاروکړی که صواب(روا) وی حق تعالی هغه ورڅخه منی. اوکه خطا وکړی تری تیریږی، ځکه چی نیت یی صواب دی یعنی توبه کوی.

اورسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ په جماعت سره کاو اوهغه یی واجب ګڼانه. اوخلک یی دهغی په ساتنه وګومارل اوهرڅوک چی جماعت ته دحق په سترګه نه ګوری هغه مبتدع دی.

ځکه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپله هغه ترسره کړی. اوامت ته یی په کولو امرکړی اودجماعت لمانځه ته یی ثواب وعده کړی اوهغه ته چی له جماعت څخه لاس واخلی وعید فرمایلی دی.

اوعبدالله ابن عباس رضی الله عنهما روایت کوی: چی رسول علیه الصلوة والسلام وویل: هرڅوک چی لمونځ په جماعت سره وساتی( تل یی اداء کړی) حق تعالی ورته دزرو تنو شهیدانو ثواب ورکوی.

اورسول صلی الله علیه وسلم فرمایلی: هرڅوک چی دلمانځه لومړی تکبیر په امام پسی وکړی، حق تعالی فرمان ورکوی، ترڅو یوسل اوشل نیکی دده په دفتر کی ولیکی. اویو سل او څلورویشت زره بدی دده له دیوانه پاکی کړی. اویو سل اوڅلورویشت زره درجی دده په نام په جنت کی پورته کړی.

اورسول وویل صلی الله علیه وسلم: چی که هرڅوک لومړی تکبیر په لمانځه کی ونیسی هغه بهتره دی له هرڅه چی په دنیا اوآخرت کی دی.

اما دجماعت دتارک وعید: ابوسعید خدری رضی الله تعالی عنه روایت کوی چی رسول صلی الله علیه وسلم وویل: ماته اویاوو فرشتو خبر راکړ، له هغو فرشتویو جبرئیل علیه السلام و، اویو میکائیل علیه السلام اواسرافیل علیه السلام، ټولو وویل: هرڅوک چی له جماعته څخه لاس په سر شی ، هغه به جنت ونګوری، ولو که داسی طاعت وکړی لکه دځمکی ټول اهل یی چی وکړی، اوهرڅوک چی له جماعته لاس په سر شی هغه ملعون دی. اوحق تعالی هغه نه منی. اوپه تورات انجیل اوفرقان سره هغه ملعون دی اودپیغمبرانو اوفرشتو په ژبه هم.

اوسهار اوماښام به دخدای عزّوجلّ له خشم اوقهر سره وی. اوحق عزّوجلّ به هغه دښمن بولی، اوفرشتی اوهرڅه ته چی خدای تعالی روح ورکړی اودنفس خاوند دی هغه به دښمن بولی. اوهره فرشته چی په ځکه او آسمان کی ده هغه ته به لعن وایی، ترڅو ددریاب ماهیان هم په ده لعنت وایی. اوهغه به داهل سنت اوجماعت دښمن وی اوبدترین دامت به وی.

ای محمده! که هغوی ناروغ شی پوښتنه یی مکوی! اوکه مړه شی په جنازه یی مه دریږی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: ومی پوښتل له جبرئیله چی نه پوهیږم چی دځمکی پرمخ له دی قوم څخه چی دجماعت له لمانځه څخه لاس په سرکیږی، بد څوک دی؟ جبرئیل وویل: دوی له خمرخوارانوڅخه بدتر، له خلکووژونکوڅخه بدتر، له سود خورو څخه بدتر ، له زانیانو څخه بدتراوله سخن چینانو اوپلارمورآزارونکوڅخه بدتر اوله هغو بدتره دی چی په دروغو شاهدی ورکوی. اودوی ته په جنت کی هیڅ نصیب نشته.

اوکه په همدی حال ومری، له منافقانو سره به په دوزخ کی وی. پس هرڅوک چی جماعت حق ونګڼی مبتدع اوهواداره اوله خوارجو څخه به وی. همدومره بس دی هوښیارانو لره.